د افغانستان اسلامي امارت

**د ارشـــــاد، حـــج او اوقافـــــو وزارت**

**د مساجدو او حُسَينيو د ارشاد او انسجام لوی رياست**

دجُمعې ورځې د خطابت موضوع او ليکلی تقرير او بيان چې د هيواد

دمرکز او ولاياتو ټولو خطيبانو ته په دواړو ملي ژبو (پښتو او دري) کې ليږل کيږي.

---

**۲۴/ محرم الحرام /۱۴۴۸ هـ، ق مطابق ۱۹ / سرطان /۱۴۰۵هـ، ش**

# د ځوانانو په اصلاح کې د ديني علماوو مسئوليتونه

بسم الله الرحمن الرحيم

الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي هَدَانَا لِهَذَا وَمَا كُنَّا لِنَهْتَدِيَ لَوْلا أَنْ هَدَانَا، وأشهد أن لا إله إلا الله وحده لا شريك له، وأشهد أن محمداً عبده ورسوله هدى الله به من الضلالة إلى الهدي وفتح الله به أعيناً عمياً وآذاناً صماً وقلوباً غلفاً - اللهم صل وسلم عليه وعلى سائر الأنبياء والمرسلين وعلى الصحابة أجمعين بإحسان إلى يوم الدين. أما بعد:

قال الله سبحانه وتعالى:(قَالَ يَا قَوْمِ أَرَأَيْتُمْ إِنْ كُنْتُ عَلَى بَيِّنَةٍ مِنْ رَبِّي وَرَزَقَنِي مِنْهُ رِزْقاً حَسَناً وَمَا أُرِيدُ أَنْ أُخَالِفَكُمْ إِلَى مَا أَنْهَاكُمْ عَنْهُ إِنْ أُرِيدُ إِلَّا الْإِصْلاحَ مَا اسْتَطَعْتُ وَمَا تَوْفِيقِي إِلَّا بِاللَّهِ عَلَيْهِ تَوَكَّلْتُ وَإِلَيْهِ أُنِيبُ).[1]

**درنو حاضرينو!**

**السلام عليکم ورحمة الله وبرکاته.**

ځوانان د ټولنې د ملا د تير حيثيت لري او کله چې د ملا تير ته کوم مرض ورسيږي ، نو انسان کمزوری کيږي او بيا نشي کولای چې کامياب ژوند وکړي. دارنګه کله چې د ټولنې ځوانان په اخلاقي مرضونو اخته شي، نو ټولنه کمزورې کيږي او په ټولنه کې ډول ډول مرضونه پيداکيږي او ټولنه له زوال سره مخ کيږي .

متأسفانه په اوسني دور کې د اسلامي ټولنې اکثره ځوانان د خپل ديني تعليماتو او ديني ارزښتونو څخه ناخبره دي، عقيدوي باورونو او ديني احکامو په اړه يې معلومات له نشت سره برابر دي، د اسلامي آدابو او اخلاقو په برخه کې يې د معلوماتو سطحه کمزورې ده .

د همدې امله د شرعي احکامو او اسلامي اخلاقو او آدابو د رعايتولو په باره کې ډيری يې بې تفاوته او بې پروا دي.

مونږ او تاسو که چيرې د خپلو ځوانانو حالت ته په ځير سره وګورو اکثره ځوانان پنځه وخته لمونځونه په جماعت سره نه کوي، په لارو او کوڅو کې اسلامي آداب او اخلاق نه رعايتوي، ټول وخت د مبائلونو په کتلو تيروي او په مبائلو کې د هلاکت څخه ډک فلمونه، سريالونه، ويناوې او تبليغاتي لوڅ عکسونه ګوري، په مبائلونو کې بې عفته ښځو سره خبرې کوي او ور سره تماسونه برقراروي د غرب له خوا د فکري جګړې ښکار ګرځيدلي دي او نور قسماقسم بې لارې توب ته ځوانانو مخه کړې ده.

---

[1]-هود:(۸۸)

کله چې صلیبیانو د مسلمانانو څخه په صلیبي جګړو کې ماته وخوړله ، نو هغوی لومړی هغه څه چې ترتیب یې کړل ، د مسلمانانو له اولادونو او ځوانانو څخه اسلامي عقیده اخیستل او په مسلمانانو کې د منکراتو او غربي فرهنګ ترویجول د نوی سلاح په توګه رامخ ته کړل او په دې کار یې دومره لګښتونه وکړل چې د ذروي سلاح څخه هم څو چنده زیات دي.

د غربي فکري جګړې لاسته راوړنه په شلم قرن کې دا شوه چې اوس زمونږ ځوانان د حق اوریدلو ته تیار نه دي او عزت او سعادت په غربي فکرونو ، سیاستونو، او ایډیالوجیو کې ویني....که چیرې د اوسني وخت د ځوانانو کردار، سلوک او کړنو ته متوجه شې، نو ور څخه زیات نااميده شې.

د ځوانانو په اصلاح کې دیني علماء کرام تر هرچا زیات مسئولیت په غاړه لري.

دیني علماء کرام د ټولنې رهبري او روحاني مشري په غاړه لري، اوس چې د نورو پیغمبرانو د راتللو سلسله پر حضرت محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم باندې دریدلې ده ، نو د پیمغبرانو دنده او وظیفه الله جل جلاله د دیني علماوو په غاړه اچولې ده ، ترڅو خلکو ته دین وروښایې، له دیني احکامو ، اخلاقو او آدابو څخه یې خبر کړي ، سمې لارې ته یې راوبولي، په ځانګړې توګه د ځوانانو په اصلاح کې دیني علماء کرام ډیر مسئولیتونه لري. رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي:«وَأَنَّ الْعُلَمَاءَ هُمْ وَرَثَةُ الأَنْبِيَاءِ».(۲)

هغه مبارك آیت چې دځوانانو د اصلاح مسئولیت د علماوو کار دی دادی .(وَلَكِنْ كُونُوا رَبَّانِيِّينَ بِمَا كُنْتُمْ تُعَلِّمُونَ الْكِتَابَ وَبِمَا كُنْتُمْ تَدْرُسُونَ).(۳)

ترجمه:ولیکن (وایي چې) شئ تاسې عالمان عاملان په سبب د دې چې یئ تاسې چې ښوونه کوئ (خلقو ته) کتاب (شرعي احکام) او په سبب د دې چې یئ تاسې چې تدریس کوئ (او درس اخلئ پخپله دا کتاب لولئ او نورو ته یې هم لولوئ).

د استدلال وجه: په ذکر شوي مبارك آیت کې الله تعالی هغه چاته چې قرآن کریم یې زده کړی وي دادنده سپارلې ده رباني اوسي او رباني علماء هغه چا ته ویل کیږي چې د خلکو تربیت کوي. د ربانې توب یو تفسیر دادی چې: (أنهم الولاة الذين يربّون أمور الناس).(٤) رباني چارواکي هغه څوک دي چې د خلکو د کارونو تربیت کوي.

بل داچې تاسې چې قرآن کریم لوستلی دی او دقرآن کریم علوم مو زده کړي دي، نو ستاسې مسئولیت دی چې تاسې نور هدایت ته را وبولئ. په تفسیر خازن کې راځي: (أي كونوا ربانيين بسبب كونكم عالمين ومعلمين بسبب دراستكم الكتاب).(٥)

ژباړه: یعنې تاسې رباني اوسئ په سبب ددې چې تاسې عالمان یاست او معلمین یاست او په سبب ددې چې تاسې قرآن کریم لوستلی دی.

په قرآن کریم کې الله تعالی د اهل علمو فضیلت بیان کړی دی او په اسلامي شریعت کې چې هرڅومره د کوم انسان مرتبه پورته او لوړه وي ، په هماغه اندازه یې مسئولیت هم زیات وي.

---

۲ - صحيح البخاري ت (۱/ ۷۱)، مسند أحمد (۳۶/ ٤٥)

۳ -آل عمران: (۷۹)

٤ - وهذا قول ابن زيد. النكت والعيون ـ موافق للمطبوع (۱/ ٤٠٥)

٥ - تفسير الخازن ـ موافق للمطبوع (۱/ ۳۷۳)

الله تعالی د علماء کرامو د فضـــیلت په اړه فرمایلي دي: (قُلْ هَلْ يَسْـــتَوِي الَّذِينَ يَعْلَمُونَ وَالَّذِينَ لا يَعْلَمُونَ إِنَّمَا يَتَذَكَّرُ أُولُو الأَلْبَابِ).(٦)

ترجمه: ووایه (ای محمده) آیا برابر دي سره هغه کسان چې پوهیږي او هغه کسان چې نه پوهیږي (جاهلان وي ؟ بلکه برابر نه دي) بېشکه همدا خبره ده چې پند اخلي خاوندان د خالصو عقلونو.

الله تعالی په یو بل مبارک آیت کې فرمایلي دي:(وَمَا يَعْقِلُهَا إِلَّا الْعَالِمُونَ).(٧)

ترجمه: او نه پوهیږي پر دغو (مثالونو) مگر هغه پوهندگان (چې ښخ د خبرې را سپړي).

علماء کرام د لاندې کارونو په سرته رسولو کې کولای شي د ځوانانو په اصلاح کې خپل مسئولیتونه اداء کړي:

١-دا چې د نن ورځې ماشوم او طفل د سبا ورځې ځوان دی، نو دیني علماء کرام باید دماشومانو په سالمه تربیه کې ډیر زیات کوښښ وکړي ، ترڅو سباته په اسلامي جامه مُلبّس ځوان جامعې ته وړاندې کړي.

علماء کرام خصوصاً د مساجدو امامان او خطیبان باید په مسجدونو کې چې داسلامي تربیت لومړنۍ زانگو گانې دي اسلامي درسونه، لکه د قرآن کریم، نبوي احادیثو، د نبوي سیرت، د صحابه کرامو اخلاق او داسلام په لاره کې د صحابه کرامو شجاعت اومیړانه ماشومانو، هلکانو، اطفالو او ځوانانو ته تدریس کړي.

امام ابن خلدون رحمه الله لیکي:(اعلم أن تعليم الولدان للقرآن شعار الدين أخذ به أهل الملة و درجوا عليه في جميع أمصارهم لما يسبق فيه إلى القلوب من رسوخ الإيمان و عقائده من آيات القرآن و بعض متون الأحاديث).(٨)

ژباړه: پوهه شه! بیشکه اولادونو ته د قرآن کریم تعلیم ددین شعار دی، په دې باندې د اسلامي ملت عمل کړی دی او په دې کار باندې تل پاتې شوي دي په ټولو ښارونو کې ، ځکه چې زړونو ته لومړی هغه څه ور مخکې کیږي چې ایمانورباندې په زړه کې قوي کیږي او عقائد په زړونو کې رسوخ پیداکوي د قرآن کریم په آیاتونو او دځینو آحادیثو په متونو باندې .

په مساجدو کې د امامانو او علماء کرام دا مسئولیت دی چې د محلې ماشومانو ته زیات وخت ورکړي او د هغوی په اسلامي تربیت او ښوونه کې زحمت او مشقت په کار واچوي.

همدارنگه د مساجدو امامان او خطیبان د تنکیو هلکانو او ځوانانو لپاره باید مستقل حلقات دائر کړي؛ ترڅو په دغو حلقاتو کې په اسلامی روحیه او عمیق ایمان باندې ځوانان وروزي او هغوی ته د لمونځ او شرعي حکمونه، د شریعت ښکلا گانې، اسلامي اخلاق او آداب ورته تدریس کړي.

که چیرې مونږ د اسلام ځلانده تاریخ مطالعه کړو ، نو مسجدنبوي د رسول الله صلی الله علیه وسلم د روزنې مرکز ؤ، مساجد د صحابه کرامو -رضوان الله تعالی علیهم اجمعین- پر وخت کې د علم او احکامو د زده کړې مرکزونه ؤ او صحابه کرامو په مساجدو کې لوی لوی تابعین او تبع تابعین وروزل او د مساجدو له لارې یې اسلامی ټولنې ته لوی لوی مجتهدین او داسلام سپه سالاران وړاندې کړل.

---

٦ -الزمر: (٩)

٧ -العنکبوت: (٤٣)

٨ - مقدمة ابن خلدون (٢/ ٢٨٠)

په يو روايت کې راځي.عن عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُبَيْدِ بْنِ عُمَيْرٍ كَانَ فِي هَذَا الْمَكَانِ خَلْفَ الْكَعْبَةِ حَلْقَةٌ فَمَرَّ عَمْرُو بْنُ الْعَاصِ يَطُوفُ فَلَمَّا قَضَى- طَوَافَهُ جَاءَ إِلَى الْحَلْقَةِ، فَقَالَ: مَالِي أَرَاكُمْ نَحَّيْتُمْ هَؤُلَاءِ الْغِلْمَانَ عَنْ مَجْلِسِكُمْ لَا تَفْعَلُوا أَوْسِعُوا لَهُمْ وَأَدْنُوهُمْ، وَأَفْهِمُوهُمُ الْحَدِيثَ فَإِنَّهُمُ الْيَوْمَ صِغَارُ قَوْمٍ وَيُوشِكُوا أَنْ يَكُونُوا كِبَارَ آخَرِينَ، قَدْ كُنَّا صِغَارَ قَوْمٍ ثُمَّ أَصْبَحْنَا كِبَارَ آخَرِينَ).(٩)

ژباړه: د حضرت عبدالله بن عبيد بن عمير رحمه الله څخه روايت دی ، هغه وايي په دې ځای کې د کعبې شريفې شاته يوه حلقه (د علم وه) ، نو عمرو بن العاص رضي الله عنه طواف کولو کله چې يې طواف تمام کړ ، هغه حلقې ته ورغلو ، نو وه ويل : ولې مو هغه ماشومان لرې ويستلي دي د خپل مجلس څخه ؟ داسې مه کوئ. حلقه ورته پراخه کړئ او ځان ته يې را نږدې کړئ او په احاديثو يې پوهه کړئ ، بيشکه دوی نن ورځ دقوم ماشومان دي او نږدې ده چې د بل قوم لويان وګرځي. مونږ هم د قوم ماشومان وو ، بيا دنورو قومونو لويان وګرځيدلو.

د امويانو او عباسيانو په وختونو کې مسجدونه لکه د نن ورځې پوهنتونونه او جامعات ؤ، چې د قرآن کريم مفسرين، فقهاء او ائمه مجتهدين، مؤرخين، طبيبان ، ساينسدانان او سياسيون په کې روزل کيدل.

هرکله چې علماء کرامو مساجد يواځې دلمونځونو داداء کولو لپاره خاص کړل او په مساجدو د ځوانانو تعليم او تربيت کمزوری شو، نو دښمن زمونږ څخه د ماشومانو او ځوانانو تربيت او روزنه واخيستله او ځوانان يې په خپل فکر او ايډيالوجی باندې وروزل.

نو علماء کرامو ته په کار دي چې خپل اصلي مصير ته رجوع وکړي او د مساجدوڅخه د لمونځونو د اداء کولو څخه علاوه مساجد د ماشومانو، اطفالو، ځوانانو د تربيت او روزنې مرکزونه وګرځوي او په دې لار کې زيات کار وکړي ، ترڅو خپل مسئوليت اداء کړي.

٢-د ځوانانو د اصلاح لپاره د علماوو بل مسئوليت دادی چې علماء کرام بايد کوښښ وکړي چې دالله تعالی او د هغه د رسول صلی الله عليه وسلم او ددين مينه د ځوانانو په زړونو کې کينوي او ژوره يې کړي.

هرکله چې د ځوان په زړه کې دالله تعالی او دهغه د رسول صلی الله عليه وسلم مينې ځای ونيولو او د ځوان په زړه کې داسلام د مقدس دين سره محبت پيدا شو، نو بيا پر هغه باندې ناوړه تبليغات او بد اعمال هيڅ ډول تأثير نشي کولای او د الله تعالی او د رسول الله صلی الله عليه وسلم مينه د فتنو په مقابل کې ډال ګرځي.

دځوانانو په زړونو کې د الله جل جلاله او درسول الله صلی الله عليه وسلم سره مينه پيداکول او د هغوی په زړونو کې د الله تعالی او د هغه د رسول صلی الله عليه وسلم محبت زرغونول، هغه څه دي چې بيا ورته هرشی باطل ښکاري او د الله تعالی او د الله تعالی د رسول صلی الله عليه وسلم مينه يې له ټولو بدو کارونو، بدو افکارو او ناوړه اعمالو څخه رامنع کوي. په دې شرط چې د ځوانانو په زړونو کې د الله تعالی او د رسول الله صلی الله عليه وسلم سره داسې مينه پيداشي چې دالله تعالی د محبت په مقابل کې دبل څه سره محبت بې معنا ورته ښکاره شي او درسول الله صلی الله عليه وسلم د مينې په مقابل کې ورته نورې مينې عبث ښکاره شي.

الله جل جلاله فرمايلي دي:( إِنَّمَا وَلِيُّكُمُ اللَّهُ وَرَسُولُهُ وَالَّذِينَ آمَنُوا الَّذِينَ يُقِيمُونَ الصَّلَاةَ وَيُؤْتُونَ الزَّكَاةَ وَهُمْ رَاكِعُونَ). (١٠)

ترجمه: بيشکه مرسته کوونکی ستاسو(دوست) ستاسو الله تعالی او دهغه رسول دی او مؤمنان دی ، هغه مؤمنان چې لمونځونه قائموي او زکاتونه ورکوي او رکوع کوونکي اوسي.

---

٩ - المدخل إلى السنن الكبرى للبيهقي (ص: ٣٧١)

١٠ - المائدة:( ٥٥)

امام طبری رحمه الله ددې آیت په تفسیر کې لیکلي دي:( ددې آیت څخه مقصد دادی چې اې مؤمنانو! ستاسو لپاره پرته له الله تعالی او د هغه د رسول اوپرته له هغو مومنانو څخه چې صفات يې ذکر شول نور مرسته کوونکې نشته. او د يهودو او نصاراوو په اړه درته الله تعالی امر کوي چې ددوی د دوستۍ څخه بيزاره شئ او الله تعالی تاسو ددوی له دوستۍ څخه منع کړي ياستی، دوی ســتاســو دوســتان او همکاران نه دي، بلکې دوی په خپلو منځو کې يو دبل دوســتان دي اودوی په دوســتی سره مه نيسئ).(۱۱)

په همدغه مطلب رسول الله صلی الله عليه وسلم خپل صحابه کرام روزل. په يو حديث شريف کې راځي: عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:«لَا يُؤْمِنُ أَحَدُكُمْ حَتَّى أَكُونَ أَحَبَّ إِلَيْهِ مِنْ وَلَدِهِ وَوَالِدِهِ وَالنَّاسِ أَجْمَعِينَ).(۱۲)

ژباړه: د حضرت انس بن مالک رضي الله عنه څخه روايت دی، هغه وايي چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل : کامل مؤمن کيدای نشي يو له ستاسې څخه تر هغې پورې چې زه ورته ډير محبوب نشم هغه ته د هغه له بچي څخه او د هغه د پلار څخه او ټولو خلکو څخه.(يعنې په محبت اختياري سره زه هغه ته د ټولو خلکو څخه محبوب نشم).

په يو بل حديث شريف کې راځي. عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ،عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: «لَا يُؤْمِنُ أَحَدُكُمْ حَتَّى يَكُونَ هَوَاهُ تَبَعًا لِمَا جِئْتُ بِهِ».(۱۳)

ژباړه: د حضرت عبد الله بن عمرو بن العاص رضي الله عنه څخه روايت دی ، هغه وايي چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: کامل مؤمن کيدای نشي- يو له ستاسو څخه تر څو پورې چې شي نفس د هغه تابع د هغه څه چې ما ورباندې راتګ کړی دی.

يعنې تر هغې پورې تاسې کامل مؤمنان کيدای نشئ ترڅو پورې چې د الله تعالی د کتاب او درسول الله صلی الله عليه وسلم د سنتو پيروي ونکړی.

په يو بل حديث شريف کې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي:( ثَلاثٌ مَنْ كُنَّ فِيهِ وَجَدَ بِهِنَّ حَلاوَةَ الإيمانِ : أنْ يَكُونَ اللهُ وَرَسُولُهُ أَحَبَّ إِلَيْهِ مِمَّا سَوَاهُمَا ، وَأَنْ يُحِبّ المَرْءَ لاَ يُحِبُّهُ إلاَّ للهِ ، وَأَنْ يَكْرَهَ أنْ يَعُودَ في الكُفْرِ بَعْدَ أنْ أنْقَذَهُ الله مِنْهُ ، كَمَا يَكْرَهُ أنْ يُقْذَفَ في النَّارِ ).(١٤)

ژباړه: په چا کې چې دا درې خويونه موجود وي د ايمان خواږه به ويني: يو داچې الله –جل جلاله- او دهغه رسول ورته ترهرڅه خوښ وي. بله داچې د يوچا سره چې محبت کوي يواځې د الله تعالی د رضا په خاطر يې ورسره کوي. بله داچې هرکله چې الله تعالی ورته دکفر څخه نجات ورکړ، کفر ته ګرځيدل ورته داسې ښکاري لکه چې په اور کې واچول شي.

۳-علماء کرامو دا مسئوليت دی ، چې ځوانان د خپل عمر اهميت او ارزښت ته متوجه کړي.ځکه اکثره ځوانان عمر په عبثياتو او بې ځايه کارونو کې تيروي او د عمر باارزښته لحظات په حرامو او منکراتو کې تيروي .

۱۱ - تفسير الطبري (۱۰/ ٤٢٤)

۱۲ - صحيح البخاري (۱/ ۱۲)، صحيح مسلم (۱/ ٦٧)

۱۳ - شرح السنة للبغوي (۱/ ۲۱۳)، قرة العينين برفع اليدين في الصلاة للبخارى(ص: ۳۸)

١٤ - متفق عليه.

علماء کرام باید ځوانان په دې قانع کړي او ورته ووایې چې ای ځوانانو! ستاسو عمر د الله تعالی هغه نعمت دی چې الله تعالی به د قیامت په ورځ ستاسو څخه د عمر په باره کې پوښتنه کوي.

په حدیث شریف کې راځي. عَنْ عَمْرِو بْنِ مَيْمُونٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِرَجُلٍ وَهُوَ يَعِظُهُ:«اغْتَنِمْ خَمْسًا قَبْلَ خَمْسٍ: شَبَابَكَ قَبْلَ هَرَمِكَ، وَصِحَّتَكَ قَبْلَ سَقَمِكَ، وَغِنَاكَ قَبْلَ فَقْرِكَ، وَفَرَاغَكَ قَبْلَ شُغْلِكَ، وَحَيَاتَكَ قَبْلَ مَوْتِكَ ».(١٥)

ژباړه: د عمرو بن میمون تابعي رحمه الله څخه روایت د ی، هغه وایې چې نبي علیه السلام یو سړي ته نصیحت کولو او ورته یې وفرمایل: پنځه ځیزونه د پنځو ځیزونو څخه مخکې غنیمت وګڼه! ځواني دې مخکې له بوډاتوبه(غنیمت وګڼه)، روغتیا دې مخکې له مریضۍ څخه (غنیمت وګڼه) غنیوالی دې مخکې له فقیرۍ څخه(غنیمت وګڼه)، وزګارتوب دې مخکې له مشغولتیا څخه (غنیمت وګڼه) او ژوند دې مخکې له مرګ څخه (غنیمت وګڼه) .

په یو بل حدیث شریف کې راځي: عَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «لَا تَزُولُ قَدَمُ ابْنِ آدَمَ يَوْمَ القِيَامَةِ مِنْ عِنْدِ رَبِّهِ حَتَّى يُسْأَلَ عَنْ خَمْسٍ، عَنْ عُمُرِهِ فِيمَ أَفْنَاهُ، وَعَنْ شَبَابِهِ فِيمَ أَبْلَاهُ...».(١٦)

ژباړه: عبدالله ابن مسعود رضي الله عنه فرمايي: رسول الله صلي الله علیه وسلم وفرمایل: د بني آدم پښې د قیامت په ورځ د خپل ځای څخه نه ښوري تر څو چي د پنځو شیانو پوښتنه ورڅخه ونسي: د عمر پوښتنه چي په څشي کي یې تېر کړی، د ځوانۍ پوښتنه چي په څشي کي یې مصرف کړې، د مال پوښتنه چي د کوم ځای څخه یې لاسته راوړی او په څشي کي یې لګولی، او په خپل علم یې کوم عمل کړی.

هغه ځوان چې خپل عمر د الله تعالی په عبادت کې تیروي ، د قیامت په ورځ به الله تعالی د عرش د سیوري لاندې وي.

په حدیث شریف کې راځي: عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ:« سَبْعَةٌ يُظِلُّهُمُ اللَّهُ تَعَالَى فِي ظِلِّهِ يَوْمَ لاَ ظِلَّ إِلَّا ظِلُّهُ: إِمَامٌ عَدْلٌ، وَشَابٌّ نَشَأَ فِي عِبَادَةِ اللَّهِ...».(١٧)

ژباړه:د ابوهریره رضي الله عنه څخه روایت دی ، هغه وایې چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل : اووه (کسان دي) چې خپل سیوری به ورباندې وکړي الله تعالی(د عرش سیوری) په هغه ورځ چې بل سیوری به نه وي مګر یواځې دده (د عرش) سیوری به وي. یو به امام عادل وي او بل به هغه ځوان وي چې لوی شي په عبادت د الله تعالی کې...

الله تعالی ته هغه ځوان ډیر خوښ دی، چې خپل عمر په انحرافاتو، ګناهونو او بې حیائیو کې نه تیروي.

١٥ - السنن الكبرى للنسائي (١٠ /٤٠٠)، حلية الأولياء وطبقات الأصفياء (٤ /١٤٨). قال البوصيري: الحديث مرسل ورواته ثقات. اتحاف الخيرة المهرة بزوائد المسانيد العشرة (٧/ ١٣٨)

١٦ - سنن الترمذي ت شاكر (٤ /٦١٢)

١٧ - صحيح البخاري (٢ /١١١)

رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه روايت شوی دی:عَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِنَّ اللَّهَ لَيَعْجَبُ مِنَ الشَّابِّ لَيْسَتْ لَهُ صَبْوَةٌ».[۱۸]

ژباړه: د حضرت عقبه بن عامر رضي الله عنه څخه روايت دی ، هغه وايې چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل:

بیشکه الله تعالی تعجب کوي هغه ځوان ته چې نه وي هغه لره ماشوموالی. یعنې نه وي د هغه په ماشومتوب کې لهو ولعب او شهوتونو ته میلان .

٤-د ځوانانو په اصلاح کې د علماوو بل مسئولیت دادی چې علماء کرام ځوانان په لمونځونو باندې اهتمام ته راوبولي ځکه چې لمونځونه انسان دمنکراتو څخه ساتي او د الله تعالی د قُرب او نزدیکت سبب ګرځي. الله جل جلاله فرمایلي دي:(وَأَقِمِ الصَّلاةَ إِنَّ الصَّلاةَ تَنْهَى عَنِ الْفَحْشَاءِ وَالْمُنْكَرِ).[۱۹]

ترجمه: او قائموه (سم اداء کوه سره له ټولو حقوقو) لمونځ بېشکه لمونځ منع کوي (لمونځ منع کوونکي) له بې حیایۍ او له بد کار څخه.

ډیری ځوانان به وایې چې زه خو لمونځ کوم بیا هم ما د فحشاوو او منکراتو څخه نه منع کوي؟

ددې ځواب دادی چې الله تعالی ددې آیت په سر کې فرمایلي دي چې (أَقِمِ الصَّلاةَ) لمونځ قائم کړه. د لمونځ قائمولو څخه مراد په لمانځه کې د لمانځه ارکان، فرائض، واجبات، سنتونه او آدابو رعایتول حتمي دي او د لمونځ د قائمولو څخه مراد فرضي لمونځ په دوامداره توګه په جماعت سره اداء کول دي. که څوک یوځل یا دوه ځله داسې لمونځ وکړي چې په لمانځه کې قلبي حضور ونلري او خو ټونګې وکړي او د لمانځه شرطونه، فرایض او آداب رعایت نکړي ، نو ده لمونځ کړی دی ، خو لمونځ یې قائم کړی نه دی او هغه لمونځ د فحشاوو او منکراتو څخه منع کول کوي چې لمونځ په سمه توګه قائم کړل شي.

په یو روایت کې راځي. (مَنْ لَمْ تَنْهَهُ صَلاتُهُ عَنِ الْفَحْشَاءِ وَالْمُنْكَرِ فَلا صَلاةَ لَهُ).(۲۰)

ژباړه: چا لره چې د هغه لمانځه هغه د فحشاوو او منکر څخه منع نکړې، نو دده لمونځ ،لمونځ نه دی.

لمونځ د بنده او دالله ترمنځ راز او نیاز دی .څوک چې لمونځ قائموي په حقیقت کې دی د الله تعالی سره خبرې کوي او د الله تعالی څخه خپل حاجتونه غواړي.

د لمانځه د پریښودونکو په باره کې سخت وعید راغلی دی. په حدیث شریف کې راځي: عَنْ جَابِرٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «بَيْنَ الْعَبْدِ، وَبَيْنَ الْكُفْرِ تَرْكُ الصَّلَاةِ».(۲۱)

---

۱۸ - مسند أحمد مخرجا (۲۸ /٦۰۰)، مسند أبي يعلى الموصلي (۳/ ۲۸۸). قال ابوبكر الهيثمي: وإسناده حسن.مجمع الزوائد ومنبع الفوائد. محقق (۱۱/ ۱۷۳)
۱۹ -العنكبوت: (٤٥)
۲۰- تفسير ابن أبي حاتم (۱۱ /٤٤۳)
۲۱ - سنن أبي داود (٤/ ۲۱۹)

ژباړه: دحضرت جابر رضي الله عنه څخه روايت دی، هغه وايي چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: په منځ د بنده او کفر کې د لمانځه پريښودل دي. يعني لمونځ پريښودل د کفارو خصلت دی.

لمونځ پريښودل کبيره گناه ده او د لمونځ پريښودونکو ځای به په آخرت کې د سَقَر جنهم وي.

کله چې مؤمنان په آخرت کې د مجرمانو او جهنميانو څخه پوښتنه وکړي چې تاسې ولی جهنم ته اچول شوي ياستې نو مجرمين به ورته ووايي: (قَالُوا لَمْ نَكُ مِنَ الْمُصَلِّينَ).(۲۲)

ترجمه: وبه وايي (مجرمان په ځواب د مؤمنانو کې چې )نه وو مونږ (په دنيا کې) له لمونځ کوونکيو څخه.

که څوک ددې دعوا کوي چې زه د الله او د الله د بندگانو حقوق نه ضائع کوم ، او لمونځ نه کوي ، نو دا سړی درواغجن دی.

حضرت عمر فاروق رضي الله عنه خپلو واليانو ته داسې خط وليکلو:(إِنَّ أَهَمَّ أَمْرِكُمْ عِنْدِي الصَّلاَةُ، مَنْ حَفِظَهَا وَحَافَظَ عَلَيْهَا، حَفِظَ دِينَهُ، وَمَنْ ضَيَّعَهَا، فَهُوَ لِمَا سِوَاهَا أَضْيَعُ).(۲۳)

ژباړه: بيشکه مهم ترين کار ستاسې زما په وړاندې هغه لمونځ دی، څوک چې حفاظت کوي د لمانځه او هميشه والی کوي په حفاظت د لمانځه باندې ، نو ده د خپل دين حفاظت وکړ او چاچې لمونځ ضائع کړ، نو داسې کس د نورو کارونو زيات ضائع کوونکی دی.

۵-د ځوانانو په اصلاح کې د علماوو بل مسئوليت دادی چې ځوانان د نيکيو او د خير په کارونو وروزي او د نيکو کارونو په اړه ورته ترغيب ورکړي. لکه د مور او پلار سره نيکي کول، د خپلوانو سره صله رحمي پالل، د ميلمنو عزت او اکرام کول، رښتيا ويل او رينښتيا کول، په نيکيو امر کول او له بديو څخه نور راگرځول، د امانتونو اداء کول، د خلکو سره نيکي کول او له بدو کولو او ويلو څخه ځان ساتل، د محرماتو لکه زنا او د زنا دواعيو څخه ځان ساتل، د غلا او د مخدره موادو او مسکراتو له څښلو څخه ځان ساتل ، د رشوت او سود خوړلو څخه ځان ساتل.

الله جل جلاله د خير په کارونو او ويلو باندې امر کړی دی او فرمايلي يې دي:(يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا ارْكَعُوا وَاسْجُدُوا وَاعْبُدُوا رَبَّكُمْ وَافْعَلُوا الْخَيْرَ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ* وَجَاهِدُوا فِي اللَّهِ حَقَّ جِهَادِهِ).(۲٤)

ترجمه: ای هغو کسانو چې ايمان يې راوړی دی (يعنې ای مؤمنانو) رکوع کوئ تاسې او سجده کوئ تاسې (په لمانځه کې) او عبادت کوئ تاسې د رب خپل (نه د بل) او کوئ نيک کارونه (لکه صله رحمي او ښه اخلاق) لپاره د دې چې بری ومومئ (په نعمت او جنت سره) او زيار (کوښښ) کوئ په (لاره د جهاد طاعت او رضاء د) الله
په پورته ذکر شوي آيت کې الله تعالی د خير په کولو امر کړی دی او خير هر هغه کار ته ويل کيږي چې الله تعالی او د هغه رسول او مسلمانان يې خوښوي، ځکه چې د خير په کارونو کې ددنيا او آخرت فلاح او کاميابي ده. او بيا فرمايې چې د کفارو سره، د نفس ، شيطان او ناروا شهواتو سره مقابله وکړئ.

---

۲۲ - المدثر: (٤۳)

۲۳ - موطأ مالك ت الأعظمي (۲/ ۹)

۲٤ -الحج:(۷۷_۷۸)

الله جل جلاله ځای پر ځای په احسان کولو امر کړی دی او فرمایلي یې دي:(وَأَحْسِنُوا إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ الْمُحْسِنِينَ).[٢٥]
ترجمه: او نیکي کوئ (له هر چا سره مخصوصا له غازیانو سره) بېشکه چې الله دوستي کوي له نېکو کارانو سره.
په یو بل مبارک آیت کې الله تعالی فرمایلي دي چې چا یوه نیکي وکړه ، نو د هغې عوض لس چنده ورکول کیږي:( مَنْ جاءَ بِالْحَسَنَةِ فَلَهُ عَشْرُ أَمْثالِها).[٢٦]
ترجمه: هر هغه چا چې راتله یې وکړه په نیکۍ نو ده ته ده (جزاء د) لسو (نیکیوپه )مثل د هغې نېکۍ)
په یو بل مبارک آیت کې الله تعالی فرمایلي دي چې داحسان او نیکۍ گټه نیکي کوونکو ته رسیږي.(إِنْ أَحْسَنْتُمْ أَحْسَنْتُمْ لِأَنْفُسِكُمْ). [٢٧]

ترجمه: که نیکي وکړئ تاسې نو نیکي به کوئ تاسې لپاره د ځانونو خپلو.
٦-د ځوانانو په اصلاح کې د علماوو بل مسئولیت دادی چې ځوانان د انټرنیټ صفحاتو (فیسبوک، انستیگرام، ټیک ټاک، مسنجر، گوگل، یوټیوب...) له تباه کوونکو زیانونو څخه ویرول او منع کول دي.

علماء کرام باید ځوانان د ټولنیزو شبکو او صفحو زیانونو ته متوجه کړي ؛ ځکه په اوسني وخت کې د اکثرو ځوانانو د بې لارې توب سبب همدا انټرنیټ او د ټیلیفون ټولنیزې شبکې دي ، چې په کې لوڅ فلمونه، بې حیاء سریالونه خپریږي او ځوانان او تنکي ماشومان یې گوري او ټوله شپه او ورځ په کې مصروفه وي. د انټرنیټ د ټولنیزو شبکو له نوي نسل څخه وخت ، عبادت، کسب او کار، زده کړې، د خیر او د پرمختگ کارونه اخیستي دي. د انټرنیټ په ناوړه توگه استعمال سره وخت ضائع کیږي، ځینې شبکې د ځوانانو د بې دینۍ لامل کیږي ځکه په هغو شبکو کې چې ملحدین یې د الحاد دنشر لپاره کاروي مسلمان ځوان ته په دین کې شکوک او شبهات پیدا کوي او بالآخره د ځوانان عقاید له جدي خطرونو سره مخ کوي. ځینې ټولنیزې صفحات فحشاء او زنا په ټولنه کې خپروي ، ځینې نور بیا مسیحیت ته خلک دعوتوي . په دې اړه الله تعالی فرمایلي دي:( وَلَا تَقْرَبُوا الْفَوَاحِشَ مَا ظَهَرَ مِنْهَا وَمَا بَطَنَ وَلَا تَقْتُلُوا النَّفْسَ الَّتِي حَرَّمَ اللَّهُ إِلَّا بِالْحَقِّ ذَٰلِكُمْ وَصَّاكُمْ بِهِ لَعَلَّكُمْ تَعْقِلُونَ).(٢٨)

ترجمه: او مه نژدې کېږئ فواحشو (بې حیایۍ نا کارو کارونو) ته هغه چې ښکاره وي له دې (فواحشو) او هغه چې پټ وي او مه وژنئ تاسې نفس هغه نفس چې حرام کړي دي الله (وژل یې) مگر وژنئ یې په حقه سره دا (څلور نهي او امر) حکم کړی دی الله تعالی تاسې ته په دې سره لپاره د دې چې عقل وچلوئ (په کې) تاسې.

د ټولنیزو انټرنیټي صفحاتو له لارې په ټولنه کې د شرعي حاکم او ولي الأمر پر خلاف خلک بغاوت ته هڅوي او په ټولنه کې ناامني او بې قراري خپروي. حال داچې الله تعالی مسلمانانو ته امر کوي: (يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا أَطِيعُوا اللَّهَ وَأَطِيعُوا الرَّسُولَ وَأُولِي الْأَمْرِ مِنْكُمْ).(٢٩)

---

٢٥ -البقرة: (١٩٥)
٢٦ -الانعام:(١٦٠)
٢٧ -الاسراء:(٧)
[٢٨] -الانعام:(١٥١)
[٢٩]-النساء:(٥٩)

ترجمه: ای هغو کسانو چې ایمان یې راوړی دی (ای مؤمنانو) حکم ومنئ تاسې دالله او حکم ومنئ تاسې د رسول د الله او حکم ومنئ دخاوندانو دحکم له تاسې (مسلمانانو یعنې حاکمانو او مشرانو)

۷- د ځوانانو په اصلاح کې د علماوو بل مسئولیت دادی چې علماء کرام باید ځوانان د منکراتو د ارتکاب څخه وویروي.

علماء کرام باید ځوانان په دې پوهه کړي چې ځواني د الله تعالی یو ستر نعمت دی. ځواني د ځواک، عبادت، علم، جهاد او د امت د خدمت دوره ده. که دا نعمت د الله تعالی په اطاعت کې وکارول شي، د دنیا او آخرت عزت په کې دی، او که په ګناهونو او منکراتو کې ضایع شي، نو د سختې پښېمانۍ سبب ګرځي.

نن سبا ځوانان له ډېرو فتنو سره مخامخ دي؛ لکه بې‌حیایي، نشه‌یي توکي، بد ملګري، فحش فلمونه، د ټولنیزو رسنیو ناوړه استعمال، دروغ، موسیقي او نور منکرات د ایمان لپاره ستر خطرونه دي. شیطان انسان ګام په ګام ګناه ته بیایي، نو باید د هر هغه څه څخه ځان وساتو چې ګناه ته لاره هواروي.

الله تعالی د منکراتو د ځان ساتنې په باره کې فرمايي:(وَلَا تَقْرَبُوا الزِّنَىٰ إِنَّهُ كَانَ فَاحِشَةً وَسَاءَ سَبِيلًا). (۳۰)

ترجمه:او مه نژدې کیږئ تاسې زنا ته بېشکه چې دا زنا ده قبیحه (عقلاً او شرعاً) او بده ده دغه زنا له جهته د روش هم (چې زیان او فتنه ترې پیدا کیږي)

په یو بل مبارک آیت کې الله تعالی فرمایي:(قُلْ لِلْمُؤْمِنِينَ يَغُضُّوا مِنْ أَبْصَارِهِمْ وَيَحْفَظُوا فُرُوجَهُمْ ذَٰلِكَ أَزْكَىٰ لَهُمْ).(۳۱)

ترجمه: ووایه (ای محمده) مؤمنانو ته چې پټې کړي دوی سترګې خپلې (له نامحرمو څخه) او ښه ټینګ دې وساتي دوی فرجونه سترونه خپل ( د محرماتو په مقابل کې) دغه (اغماض او حفظ) ډېر پاکیزه (او ګټور) دی دوی ته بېشکه چې الله ښه خبر دار دی په هغو کارنو چې کوي یې (دوی نو ښايي چې ترې په وېره اوسي پر هر حرکت او په سکون خپل).

په یو بل مبارک آیت کې الله تعالی د فحشاوو او منکراتو څخه منع فرمایلي ده. الله تعالی فرمایي:(إِنَّ اللَّهَ يَأْمُرُ بِالْعَدْلِ وَالْإِحْسَانِ وَإِيتَاءِ ذِي الْقُرْبَىٰ وَيَنْهَىٰ عَنِ الْفَحْشَاءِ وَالْمُنكَرِ وَالْبَغْيِ يَعِظُكُمْ لَعَلَّكُمْ تَذَكَّرُونَ). (۳۲)

ترجمه: بېشکه الله امر کوي په عدل (انصاف کولو) سره او په احسان (نیکي کولو) سره او په ورکړې سره خاوندان دخپلوی ته او منع کوي له قبیحه وو کارونو څخه او له بدو کارونو او سرکښۍ څخه پند در کوي تاسې ته (په دغو اوامرو او نواهیو سره)لپاره د دې چې تاسې پند واخلئ.

لکه څرنګه چې د منکراتو ارتکاب ګناه ده ، د منکراتو اوریدل او ورته کتل هم ناروا دي . الله تعالی فرمایي:(إِنَّ السَّمْعَ وَالْبَصَرَ وَالْفُؤَادَ كُلُّ أُولَٰئِكَ كَانَ عَنْهُ مَسْئُولًا). (۳۳)

۳۰ -الإسراء:( ۳۲)
۳۱- النور:(۳۰)
۳۲ -النحل:( ۹۰)
۳۳ - الإسراء:( ۳٦)

ترجمه: ښځکه غوږ او سترګه او زړه هر يو له دغو (درې واړو) دي له هغه څخه پوښتنه کړی شوي (په قيامت کې چې تا په دنيا کې ولې ګناه کوله؟)

ځوانان کولای شي چې د منکراتو څخه ځانونه په لاندې لارو سره وساتي: د پنځه وخته لمانځه پابندي،د قرآن کريم تلاوت او تدبر، له صالحو ملګرو سره ملګرتيا، له بدو مجلسونو او فاسدو ملګرو څخه لرېوالی،د مور او پلار اطاعت، د وخت په علم، عبادت او حلال رزق لګول، د الله تعالی ذکر، دعا او استغفار ته دوام.

علماء بايد د ځوانانو د مور او پلار ته توصيه وکړي چې خپل اولادونه او ځوانان د قرآن، سنت، جومات او نېکو اخلاقو سره وتړئ. د هغوی د اصلاح لپاره دعا وکړئ، ځکه د امت راتلونکی د همدې ځوانانو په لاس کې دی.

۸- د ځوانانو په اصلاح کې د علماوو بل مسئوليت دادی چې ځوانان د ګناهونو د بدو عواقبو څخه خبر کړي.

علماء کرام بايد ځوانان د الله تعالی او د هغه د رسول صلی الله عليه وسلم څخه د سرکشی او د ګناهونو د بدو عواقبو څخه خبر کړي ، ترڅو ځوانان له ګناهونو څخه ځانونه وژغوري.

علماء کرام بايد ځوانانو ته ووايې چې د فرعون د هلاکت، دهامان او قارون دتباهی لامل د الله تعالی او د هغه د رسول موسی عليه السلام څخه سرکشي وه.

په قرآن کريم کې چې د کومو قومونو د هلاکت ذکر شوی دی ،هغوی الله تعالی د ګناهونو په وجه هلاک کړي دي. که هغه ثموديان دي، د صالح عليه السلام قوم دی او که نور قومونه دي.

ګناهونه د ګناهګار په زړه کې وحشت پيدا کوي او ګناهونه د ګناهګار په زړه کې تنګي پيدا کوي . الله تعالی فرمايي:(وَمَنْ أَعْرَضَ عَنْ ذِكْرِي فَإِنَّ لَهُ مَعِيشَةً ضَنْكًا).(٣٤)

ترجمه: او هر چا چې مخ وګرځاوه له ذکره (پنده) زما پس ښځکه ده ته دی معاش (ژوند) تنګ (په دنيا يا سخت عذاب په قبر کې).

حسن بن صالح رحمه الله فرمايي:(العملُ بالحسنة قوةٌ في البدن ، ونورٌ في القلب ، وضوءٌ في البصر ، والعملُ بالسيئة وهنٌ في البدن ، وظلمةٌ في القلب ، وعمىً في البصر).(٣٥)

ژباړه: په حسناتو عمل کول د بدن لپاره قوت دی، د زړه لپاره روښنايي ده، د سترګو لپاره روښنايي ده او په بدو عمل کول کمزوري ده د بدن او تورتم تاريکي ده د زړه لپاره او ړوندوالی دی د بصيرت لپاره.

په ګناهګارانو باندې الله تعالی او حتی چې حيوانات هم ورباندې لعنت وايي. الله تعالی فرمايلي دي:( أُولَئِكَ يَلْعَنُهُمُ اللَّهُ وَيَلْعَنُهُمُ اللاَّعِنُونَ).( ٣٦)

ترجمه: دغه کسان چې دي لرې کوي دوی لره الله له رحمت خپل او لعنت وايي پر دوی لعنت ويونکي (له پرښتو ،انسانانو،پيريانو،او نورو مخلوقاتو).

امام مجاهد ددې آيت : (وَيَلْعَنُهُمُ اللاعِنُونَ) په تفسير کې وايي:( قَالَ: الْبَهَائِمُ، الإِبِلُ وَالْبَقَرُ وَالْغَنَمُ، تَلْعَنُ عُصَاةَ بَنِي آدَمَ إِذَا أَجْدَبَتِ الأَرْض).(٣٧)

ژباړه: څاروي ، اوښان، غواګانې او پسونه د بني آدميانو په ګناهګارانو لعنت وايې کله چې په ځمکه کې خوشکسالي شي.

---

[٣٤] -طه:(١٢٤)

[٣٥] - مقالات الشيخ عبد الرحمن بن عبد الله السحيم (٢/ ٤٤٠)

[٣٦] -البقرة:(١٥٩)

[٣٧] - تفسير ابن أبي حاتم (١/ ٤٠٦)

خو د طاعت خاوندانو باندې الله تعالى ، ملائکې ، د ځمکې او آسمان مخلوق آن چې میګیان په خپلو کورونو کې او ماهیان په اوبو کې رحمت وایې.

ګناه انسـان لـه عبادت څخه محروموي. په یو روایت کې راځي: (وقال رجل للحسـن : أعياني قيام الليل ؟ قال : قيدتك خطاياك).(۳۸)

ژباړه: یو سړي حسن بصري رحمه الله ته وویل: قیام اللیل سترۍ کړم؟ حسن بصري رحمه الله ورته وویل: ته تړلی یې خپلو ګناهونو.

دامام فُضَيل بن عياض رحمه الله څخه روايت دی چې هغه به ویل:( إذا لم تقدر على قيام الليل و صيام النهار فاعلم أنك محروم كبلتك خطيئتك).(۳۹)

ژباړه: کله چې ته قادر نشوې د شپې په تهجدو باندې او د ورځې په روژو باندې ، نو پوهه شه! چې ته محروم شوی یې (د تهجدو او روژوڅخه)، تړلی یې ته ګناهونو او خطاګانو خپلو.

ګناهونه بنده د الله تعالى په نزد سپکوي. امام حسن بصري رحمه الله فرمايي:( هَانُوا عَلَيْهِ فَعَصَوْهُ وَلَوْ عَزُّوا عَلَيْهِ لَعَصَمَهُمْ ، وَإِذَا هَانَ الْعَبْدُ عَلَى اللَّهِ لَمْ يُكْرِمْهُ أَحَدٌ) .(۴۰)

ژباړه: د الله تعالى په وړاندې سپک شول، نو ځکه یې د هغه نافرماني وکړه او که چیرې د الله تعالى په نزد عزتمند وای، نو خامخا الله تعالى به له ګناه څخه ساتلي وو او کله چې بنده د الله تعالى په نزد سپک شي ، نو بیا یې هیڅکله څوک عزت نه کوي.

کله چې ګناه له انسان چاپیره شي، نو جهنم ته یې داخلوي. الله تعالى فرمایلي دي:( بَلَى مَنْ كَسَبَ سَيِّئَةً وَأَحَاطَتْ بِهِ خَطِيئَتُهُ فَأُولَئِكَ أَصْحَابُ النَّارِ هُمْ فِيهَا خَالِدُونَ).(٤١)

ګناهونه زړه توروي آن تردې پورې چې حقائق ورته بیا نه ښکاري او بیا نیکي هم نه پیژني او بدي هم نه پیژني.

په حدیث شریف کې راځي: قَالَ حُذَيْفَةُ سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- يَقُولُ « تُعْرَضُ الْفِتَنُ عَلَى الْقُلُوبِ كَالْحَصِيرِ عُودًا عُودًا فَأَىُّ قَلْبٍ أُشْرِبَهَا نُكِتَ فِيهِ نُكْتَةٌ سَوْدَاءُ وَأَىُّ قَلْبٍ أَنْكَرَهَا نُكِتَ فِيهِ نُكْتَةٌ بَيْضَاءُ حَتَّى تَصِيرَ عَلَى قَلْبَيْنِ عَلَى أَبْيَضَ مِثْلِ الصَّفَا فَلاَ تَضُرُّهُ فِتْنَةٌ مَا دَامَتِ السَّمَوَاتُ وَالأَرْضُ وَالآخَرُ أَسْوَدُ مُرْبَادًّا كَالْكُوزِ مُجَخِّيًا لاَ يَعْرِفُ مَعْرُوفًا وَلاَ يُنْكِرُ مُنْكَرًا ».(٤٢)

ژباړه: حضرت حُذیفه رضي الله عنه وایې چې ما درسول الله صلی الله علیه وسلم څخه واوریدل چې وه یې فرمایل: چاپیره به شي فتنې له زړونو څخه بند په بند یا په تکراري ډول به چاپیره شي فتنې له زړونو څخه، نو هر زړه ته داخلې شي فتنې ، پیدا به شي په کې تور ټکې او هریو زړه چې بدې وګڼلې (فتنې) پیدا به شي په هغه زړه کې سپین ټکې آن چې ټول زړونه به دوه قسمه شي ، یو قسم به سپین زړونه وي په شان د سپین کاڼي ، پس هیڅ شی به ورته ضرر ونه رسوي ترڅو چې ځمکه او آسمانونه وي او بل قسم به تور زړونه وي چې زنګ له امله به تک تور وي د کوزې په شان به سر چپه وي ، نه به معروف او نیکي پیژني او نه به منکر پیژني .

**اقول قولي هذا ، استغفر الله لي ولكم، فاستغفروه ، انه هو الغفور الرحيم.**

**والسلام عليكم ورحمة الله وبركاته.**

---

۳۸ - التبصرة (۱/ ١٤٥)

۳۹ - لطائف المعارف (ص: ٤٣)

٤٠ - الموسوعة الفقهية الكويتية (۳۸/ ۲۱۰)

41 -البقرة:(۸۱)

٤٢ - صحيح مسلم (۱/ ۸۹)